# کبیر کمال

بسم الله الرحمن الرحیم

لږ رانه لرې ولاړشې
زما ستومانه فکرو
څه مې ارام ته پرېږدې
د پردیسۍ پر حجرو
مادې تور، ددې خیرن قفس نه
لږ څه بهر ته پرېږدې
زما راتړلي په زنځیر خیالونه
لږڅه صحرا ، لږ څه پرواز ته پرېږدې
زما دزړه دا شلې،ماتې پښې
دیار کوڅه کې یو قدم ته پرېږدې
پرېږدې چې وښورېږم
پرېږدې چې وخوځېږم
.....

Download from:aghalibrary

*yasinhasanzay@gmail.com*

# غزل

چې يې کلي کې هوښيار ګرځم شرميږم

بيادرځم جنونه غيږه کې درولېږم

نور تندی مې بل ځای نه سپيره کومه

ساقي ستا دجام پښو ته سجده کيږم

د ساغر تر شا مې پټ کړی عزراييل نه

دژوندون خزانه دلته ده پوهيږم

نوردي نيسمه لمن غبرګو لاسو کې

ګني وينمه دژوند له اسپه وليږم

نن دنيا، دنيا مستي هوس هوس يم

**Download from:aghalibrary**

*yasinhasanzay@gmail.com*

چې په ډکه خوله جام خاندی زه زنګیږم

ما دعشق سره سودا دجنت وکړه

چې بابا مې پر غنم کړې زوریږم

دتاوده وصال شبنم مې په زړه اوري

په لمبه، لمبه هجران کې دې سوزیږم

چې دې سترګو ته نن جګ کتلی نشم

دزاهد خیرنو سترګو نه ډاریږم

هسې وايي چې وخت تیر شو «کمال» زوړشو
خو لا ځوان یم پیمانو سره ګډیږم

## غزل

چې دمنزل پسې منزل دی ګوری، ستړي نشی

**Download from:aghalibrary**

*yasinhasanzay@gmail.com*

بیږې هغه ده ماښو بل دی ګوری ستړي نشی

دارادو نه دسفر پنډونه کلک وتړی

موخه دلمر دکور درشل دی ګوری ستړي نشی

دسرابو تر کلي تللو نن هوښیاره اوسی

چې دا ریښتینی شان تکل دی ګوره ستړي نشی

چې مو پرون وه دمه کړې دپردو په رباط

ملګرو دا رباط مو خپل دی ګوری ستړي نشی

لا يې دلارو میلمنې دي سترګې بل کاروان ته

په مونږ ښایسته زمونږ کابل دی ګوری ستړي نشی

درقیبانو سترګې سرې دي دغضب په رانجو

**Download from:aghalibrary**

yasinhasanzay@gmail.com

په رنګیدلو یې مورچل دی ګوری، ستړي نشی

چې خزانې یې درنا په تورو شپو کې لوټ کړې

نن یې ښراغ په لاس کې غل دی ګوری، ستړي نشی

شمله دې نیغه وړه «کماله» چې تاریخ وویل

ستا پرونی دنن اتل دی ګوری، ستړی نشی

## غزل

بار دجفا دې په شاوړمه، لاستومانه نه یم

نصیبه بیا دې ازما یمه، لاستومانه نه یم

آزله تا که په تندي مې تورې شپې لیکلي

دا تورې شپې سهارومه، لا ستومانه نه یم

Download from:aghalibrary

ساقي نوبت مې پردې نکړې چې بیخوده نه یم

ډکې پیالې در تشومه، لا ستومانه نه یم

بیلتونه! ته که یې په سرو سترګو مین وختې

دا ژړیدلی خندومه، لا ستومانه نه یم

غمازه! ته به مې درګاه په اور کې سوې ګڼې

بیا پرې کاروان درسیخومه، لا ستومانه نه یم

که دوختو لاسونه زر وارې دا هرڅه ګډ کړي

بیا تور له سپینه بیلومه، لا ستومانه نه یم

خیر که روزګار مې پښې غبرګې په زنځیر تړلی

ځان په سینه درخښومه، لا ستومانه نه یم

**Download from:aghalibrary**

نوردې خمار په سرکې نه پرېږدم چې خوب دې يوسي

ستوني ته اور دراچومه، لاستومانه نه يم

«کمال» د ګرم انجمنه څخه بيا نارې کړې

دايخ وهلی ګرمومه، لا ستومانه نه يم

## غزل

دعبث ژوندون دوکان کې، څه لعلونه دي خرڅيږي

دهرچا په جيب کې رنګ دی، څه رنګونه دي خرڅيږي

داسمان لويه لمن کې، بل څه نشته غير دکاڼو

پرې ياغي ککرۍ ولې، مست سرونه دي خرڅيږي

يومحرم دساغر نشته، يو اشنا او دلبر نشته

**Download from:aghalibrary**

yasinhasanzay@gmail.com

نامحرمو باندې ګوری، څه جامونه دي خرڅيږي

زړونه ډک دي له خبرو ، چاته حال ويلی نشې
دې ميراتې دنياګۍ کې، څه رازونه دي خرڅيږي

دخپل ځانه خبر نشو ، پټې سترګې پلورل شوی
څه منزل څه مسافر دی؟ رباطونه دي خرڅيږي

رانه هيره مې کعبه شوه دزاهد له برکته
دتسپو دامونه خپور دي، محرابونه دي خرڅيږی

دهرڅه نه مې زړه تور دی، نن په هرچا بد ګومان يم
څه بازار دريا تود دی، څه قولونه دي خرڅيږي

نور ترږم دباور خونه، نړوم داحساس کلی

**Download from:aghalibrary**

*yasinhasanzay@gmail.com*

مرورې مې دی هیلې، چې میړونه دي خرڅیږي

«کمال» وژړل په چیغو، دشهید ارمان په خلي

صدافسوس اوصد ارمان چې، ارمانونه دې خرڅیږي

## غزل

دومره لویه له اغزیو ډکه لاره
او زما داسې رنځور، رنځور ګامونه

اوښان سترې، کاروانیان له پښو پاتې
دوی لا څه کړې په ژړا سترې بارونه

دکاروان رسۍ په لاس کې دشیطان ده
څه خبر که شي تر سره دا مزلونه

راشۍ وګورۍ عالمه ننداره ده
په لیوانو یې سپارلي دي پسونه

دپیشکو او مږکو ایتلاف دی
ګیدړان کړي دچرګانو اوازونه

لا پرمخ دلارو سرې سکروټې فرش دي
څنګه کیږدي مسافر پرې قدمونه

Download from:aghalibrary

پراغزيو، ګنډيريو پسرلی شو
پر ګلانو لا ميلمه دي خزانونه

دټټو اوچې د اسپ فرق پکښې نشته
رب دې وسيزي په اور دا بازارونه

**خدای پوهیږي که اغیز وکړي «کماله»**
**د زاړه ملا د دروغو تاویزونه**

## غزل

زاهده رخصت راکړه ځو جامونه تشوم
دتاک دبوټي لاندې ثوابونه خښوم

ساقي را تښتيدلی يم په خم کې پناه راکړه
يخنۍ دخمار سوی يم رګونه ګرموم

ژوندون پخپل بدل کې څو تصويره پلاس راکړل
اوس ناست دذهن کور کې تصويرونه ځړوم

منګولې مې که يو ځل ستا تر غاړې رسيدلې
اسمانه! تر لمن دې ګريوانونه څيروم

مجنون سره مې شپې دي دفرهاد سره اشنا يم
عقله لرې شه له خوا نه چې دې خونه نړوم

**Download from:aghalibrary**

*yasinhasanzay@gmail.com*

دخیام کوڅې ته ځمه نن پرې ځان میلمه کومه
دوزخونه خپلومه، جنتونه هیروم

شیخه مه راځه په مخه چې ګستاخ او بې پروایم
دتوبو نه منکر شوی محرابونه سوزوم

ماپرېږدی څه ارامه دکوڅي ژوند جهنم کې
یو څو یتیمې هیلې یه اورونو دودوم

ژوندونه څه تلوار کړې قدمونه ټکني کړه
لا تنکۍ مینې دیارته امیدونه ځنګوم

دخیال په سمندر کې مې لامبو وهي «کماله»
داځي دساهل لورته زه موجونه ښکلوم

## غزل

دلته نوم دمینې ما اخلۍ هر قدم کې غرغرې دي
داسمان په چا زړه نه سوي درحمت سترګې ړندې دي

دهجران په کور واده دی سره لاسونه مستان ګرځي
غیرې تشې دمینو مساپرې معشوقې دي

غمازان ګرځي کوڅو کې څوک له ډاره زمونږ لورته
سترګې نشي ګرځولای دقاصد شلې پښې دي

سترګکونه راته مه کړه ددیدار لارې دي بندې
فرښتې دوصال تللی هدیرو کې میلمنې دي

واعظان دمینې مړه دي یو محراب دحسن نشته
دلته ځان په ځان سودا ده په تندي وچې سجدې دي

زاهد ګورم سپینې سترګې خرخوي دعقبی زیري
دوکانونه ددین خلاص دي تړل شوې میخانې دي

غبرګ زامن دهیلو مړه دي ارمانونه یتیم شوی
دجانان دکلی لورته داغزیو سلسلې دي

قدمونه یې ورک شوی په کوڅه زما دزړه کې
اخترونه مرور دی یو دبل پسې روژې دي

ژوند تلک شو پکې ګیر شوم دخلاصون لاسونه مات دي
ای دبرخو تقسیمګره د«کمال» درنه ګیلې دي

## غزل

دکور مخکې دې په دار چې ځړیدمه پام دې نه وه
«ابراهیم» وم په لمبو کې سوزیدمه پام دې نه وه

سولوله مې سینه چې داغزو په تیرو څوکو
چې بورا ومه په وینو لمبیدمه پام دې نه وه

غرقیدو نه مې څه مخکې څو نارې درپسې وکړې
زه د اوښکو په ګرداب کې ډوبیدمه پام دې نه وه

راشه وپوښتو «منصور» نه چې د چا لوزو ته شا شوه
د وعدې به ورځ تنها حلالیدمه پام دې نه وه

ترقیامته دې دمینې دپاللو لاپې څه شوې
چې بیګاه درنه رقیب له غیرې ورمه پام دې نه وه

دکتو په بز دې رنګ کړل د «کمال» د زړه برجونه
چې دې قبر کې دسترګو ښنید مه پام دې نه وه

## دهیلو جنازې

ښنګه نه راتلو ته بهانې درځي
هره ورځ پلمو پسې پلمې درځي

ووځه له کوره بدرګه یې کړه
کلي ته داوښکو قافلې درځي

شعر ته مې دخدای مقام کې کښیناستې
څکه سر په سر در ته سجدې درځي

خال دې پیره دار شونډو ته کښیناوه
اوس به اموخته ښنګه دشپې درځي

پوه چې په مرموز، رموز دمینې یې
چل درته څوانۍ کې دزړې درځي

ګورم دزفاف شپه چې در یاده کړم
غرونو دسینو کې زلزلې درځي

مینه چې ځلمۍ شوه ځلمیتوب لاړه
خانده چې دهیلو جنازې درځي

پاک ساته «کماله» دا لانونه يې
وايي دزړه کورته پښتنې درځي

## خردجال

دمیخور تسپې په لاس دي، جام په سرو سترګو ژړيږي
ګیرورې بلاګانې، محرابونو کې ګډیږي

«کنچنۍ» دکلی وعظ کړي دحجاب په اغوستلو
چې په پټ باندې نامې وې دزنا غیږ کې لوبیږي

چې پرون يې ددوه خرو اوربشې نشوای بیلولای
نن دسر په اشاره يې برخلیکونه ټاکل کیږي

خوی بدل شو دلیوانو دپسونو پیره دار شول
شپون له تیکي توره ایستې خپلو میږو ته ګواښیږي

دزمري غوږ کې مې ولیده حلقه دغلامۍ وه
عجیبه ده چې ګیدړ له ځایه جګ شي دی ټیټیږي

«ابراهیم» ده ملا تړلې دبتانو حفاظت کړي
بت شکنه بت پرست شول بیا «منات» ته سجدې کیږي

«ابلیس» وخوته ممبر ته دتقوا چپن په غاړه
زاهدان په میخانو کې دجامو سره نخیږي

فرعونیان ځي دخدای کورته شیطانان په کاږو ولي
د«موسی» نوراني لاس نه دظلمت وړانګې خپریږي

yasinhasanzay@gmail.com

پخوانی اثر  یې نشته اوس یو زیری دمرګي ده
دژوندون له ټاله ولېږي چې«مسیح» باندې دمېږي

سپین بیرغ د«یزید» لاس کې ځي دزړونو عبادت ته
د«حسین» خنجر په لاس دی په پریکړو سرو خیژي

اهنګر په لاس جوړېږي امیلونه دپی مخو
لور چې غاړې پرې غوځېږي دزرګر په لاس جوړېږي

ځه د«عرش مالک» ته وایه دقیامت نښې پوره دي
ستا په نظم کې څه شوي «خردجال» نه معلومېږي

## دارمان ډولۍ

چې دي دسره هجران له یخه په سور اور واوښتم
بیادې دشونډو په کوځه کې په پیغور واوښتم

ولې مې نن ورسره هو ، کړل دسبا په نامه ؟
ماچې دنغدو کار کاوه دادی په پور واوښتم

زه وم دسور قاتل له ویرې دپناه په هیله
خوار شې نصیبه چې دتور قصاب په کور واوښتم

دسرنوشت په ګذرګاه کې مې معبر ، ونه موند
دترکستان پرلوري تلمه په لاهور واوښتم

ما دارمان ډولۍ دلمرپر اوږو کور ته وړله
دتیارو غلو په لار کې مړ کړمه په ګور واوښتم

**زاهده ته راته بربنډ ، عشق دې دروغجن شو کله**
**چې په «کمال»، دادمجنون په سکه ورور واوښتم**

## دکلي خلیفه ته

چې ډاډه ځې ستا خو مخکې ځراغ بل دی
مونږ وهلی په تیارو کې دا مزل دی

ته دبخت په نیلي سپور ځې تر جانانه
مونږه پیژني که تل دی که کوتل دی

چې دژوند په تور دالان کې مخته ګورم
دازما ازل نه تور دستا عمل دی

داچې غله مو په کوخو کې ډاډه ګرځي
ستا په شان ء خلیفه ورسره مل دی

که له هسکه کوم یو غشی یاغي شوی

هغه ښخ زمونږ په زړه یا په ګوګل دی

خودوخت ګونګې شیبې راته موسکې دي

راته وایي چه دی خپل یار دکور غل دی

دغیرت چیغې مې واټ دوینو پرانست

رانه تښتي اوس «لایق» دی که«اجمل» دی

د«کمال» په یارانه کې خلل نشته

که خلل شته نو په یار کې څه خلل دی

## دغم خونه

بیادې په زړه دیاد نغمې وریږي
لکه باران دانې، دانې وریږي

ماویل زر درشم څه ارام وموم
خوتاکې اوس هم زلزلې وریږي

yasinhasanzay@gmail.com

زاړه زخمونه مې جوړ شوی ندی
نوو ته لا په سر چړې وریږي

دعزراییل چاره لا پخه نده
په هدیرو دې جنازې وریږي

بیا زاهدانو توبې ماتې کړلې
چې دې کوڅو کې غرغرې وریږي

ګوري دې ظلم داسمان ته خلکو
په نورو ورځې په مونږ شپې وریږي

لا تنور وږی ، نغري ساړه دي
لا په حجرو باندې غرمې وریږي

رقیبه! څه زمونږ خواږه محفل نه
خولې نه خبرې دې ترخې وریږي

پام چې په سپکه ورته ونګورئ
لا یې پر سر باندې شملې وریږي

**«کماله» بس کړه دادغم سندرې**
**ستا دسندرو نه لمبې وریږي**

## ستړي خیالونو

لږ رانه لرې ولاړشې

زما ستومانه فکرو

څه مې ارام ته پریږدۍ

د پردیسۍ پر حجرو

ماددې تور ، ددې خیرن قفس نه

لږ څه بهر ته پریږدۍ

زما راتړلي په زنځیر خیالونه

لږڅه صحرا ، لږ څه پرواز ته پریږدۍ

زما دزړه داشلې،ماتې پښې

دیار کوڅه کې یو قدم ته پریږدۍ

پریږدۍ چې وښوریږم

پریږدۍ چې وخوځیږم

***

لږ په رڼو سترګو شاو خوا وګورۍ

کاروان له واړو ولاړه

ځۍ چې ورمنډه کړو لا لرې ندی

ځۍ چې ځان سیال کړو دسیالانو سره

ځی چې پخپلو خلاصو، خلاصو وزرو

لږ څه پرواز دهسک پر لوری وکړو

***

ترڅوبه ژاړو هدیرې دمړو

وینو کې لیتې جنازې دمړو

ترڅوبه توره دبابا یادوو

ترڅو شمله به دنیکونو ستایو

دسوزیدلی ګلستان پرانګړ

بس ددود شوی نرګس غم کې کښینو

***

راځی چې بل کړو یو بل نوی پانوس

بیا دتیارو زړه ته رڼا ډالۍ کړو

راځی ددې خوسا، بې خونده ژوند نه

دځان خلاصون په تکل

دزمانې په خونړي ګرداب کې

څو بې پروا مستې غوټې ووهو

***

راشۍ رندانو ته ترخو ستونو کې

یو څو قطرې دشاتو وڅښوو

راشۍ ساړه ډولونه بیا ګرم کړو

راشۍ تارونه درباب نرم کړو

راشۍ تاوده کړو خپل ساړه نغري

راشۍ تازه کړو پروني پسرلي

***

راځۍ دژونده څخه کام واخلو

دناکامیو انتقام واخلو

ساقي ولاړ دی ترینه جام واخلو

ترینه خوندونه دخیام واخلو

نو :

ای زما دژوندون ستړو خیالو

راځۍ چې وپټیو

yasinhasanzay@gmail.com

دژوندانه په واټ کې

دیار دوصل تر ښار

یوبل ته لاس او ډاډګیرنه ورکړو

چې تنهایي د بربادۍ نښه ده

yasinhasanzay@gmail.com